**مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی**

**د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز**

# تحلیل هفته

**شماره: ۱۴۰** (از ۹ الی ۱٦ عقرب ۱۳۹۴ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:


- مقدمه ........ ۲

### لویه جرگه او په هېواد کې روان وضعیت

- ژمنه شوې لویه جرگه........ ۳
- روان وضعیت او د لویې جرگې د رابللو غوښتنې........ ۴
- کوم ډول لویه جرگه؟........ ۵
- آیا لویه جرگه به اوسنۍ ستونزې حل کړي؟........ ٦

### انتخابات ترکیه و پیروزی حزب عدالت و توسعه

- احزاب شرکت‌کننده در انتخابات........ ۷
- انتخابات دور قبلی........ ۸
- تغییر در انتخابات دور دوم........ ۹
- عوامل پیروزی حزب عدالت و توسعه........ ۱۱
- تاثیر پیروزی حزب عدالت و توسعه بر وضعیت داخلی ترکیه........ ۱۲
- تاثیر پیروزی حزب عدالت و توسعه بر منطقه........ ۱۳

## مقدمه

له تېر څه باندې یوه کال راهیسې کله چې د ولسمشریزو ټاکنو د دوو مخکښو نوماندانو ترمنځ واک ووېشل شو، د هېواد سیاسي، اقتصادي او امنیتي وضعیت د پخوا په پرتله لا ډېر خراب شو. اوس ځینې کړی له روان بحراني وضعیت څخه د وتلو لپاره، د لویې جرګې د رابللو غوښتنې کوي. دا غوښتنې د دوه ډوله ډلو لهخوا کېږي، چې یوه یې د پارلمان یو شمېر غړي دي او بله ډله بیا د پخوانیو جهادي قوماندانانو د شورا غړي دي، چې ځینې نورې کړی هم په ځنګ کې لري. دا چې څوک څه ډول لویه جرګه غواړي؟ او د لویې جرګې د رابللو د غوښتنې ترشا څه اهداف دي؟ دلته پرې شننه لولئ.

د تحلیل په دویمه برخه کې د ترکیې په ۲٦ عمومي ټاکنو کې د عدالت او پراختیا ګوند د بریا په اړه لولئ. دغه ګوند په پنځه میاشتې وړاندې ټاکنو کې د حکومت جوړولو لپاره د اړتیا وړ څوکیو په ترلاسه کولو او یا هم له کوم بل ګوند سره د ایتلافي حکومت پر جوړولو ونه توانېد او له وروستیو ټاکنو مخکې هم په نړیواله کچه اټکل دا و، چې ترکیه به دا ځل بیا هم د حکومت په جوړولو کې له سیاسي بن‌بست سره مخ شي. مګر په دې ټاکنو کې عدالت او پراختیا ګوند د ترکیې د پارلمان له اټکل زیاتې څوکۍ وګټلې. پوښتنه دا ده، چې له پنځه میاشتې وړاندې ټاکنو راوروسته کوم لاملونه د دې باعث شول چې د عدالت او پراختیا ګوند په څوکیو کې دومره زیاتوالی راشي؟ د دغه ګوند بریا خپله د ترکیې او دغه راز د افغانستان په ګډون، د سیمې د هېوادونو لپاره څه پیغام درلود؟

د اوونۍ تحلیل په دې ګڼه کې پر همدغو موضوعاتو د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز، د څېړنیزې څانګې شننې او څېړنې لولئ.

# لویه جرگه او په هېواد کې روان وضعیت




له تېرو څو میاشتو راهیسې د لویې جرګې د رابللو غوښتنې کېږي؛ خو په دې ورځو کې د مشرانو جرګې یو شمېر غړو او دغه راز د پخوانیو جهادي قوماندانانو د شورا غړو له حکومته وغوښتل، چې له روان بُن‌بست څخه د وتلو لپاره دې لویه جرګه راوغواړي؛ مګر د رابلل کېدونکې لویې جرګې د ډول په اړه د مشرانو جرګې د غړو او د پخوانیو جهادي قوماندانانو غوښتنه توپیر لري. ایا حکومت به لویه جرګه راوغواړي؟ او آیا لویه جرګه د هېواد اوسنی بحراني وضعیت په سم لوري ببولی شي؟

## ژمنه شوې لویه جرګه

د تېر کال د ولسمشرۍ له دوو پړاوونو ټاکنو او د ټاکنو له لانجمنو پایلو وروسته د ۲۰۱۴ کال د سپټمبر په ۳۰مه، دوو مخکښو نوماندانو د ملي وحدت تر نامه لاندې د ایتلافي حکومت پر جوړولو موافقه وکړه. د دغې موافقې د دویمې مادې له مخې دواړو ژمنه وکړه، چې په دوو کلونو کې دننه به د اساسي قانون د تعدیل لپاره لویه جرګه راغواړي، ترڅو په اساسي قانون کې د اجرائیه رییس څوکۍ قانوني کړي.

اوس چې د ملي وحدت حکومت له جوړېدو تقریباً ۱۳ میاشتې تېرېږي؛ نه دا جرګه راغوښتل شوې، نه په اساسي قانون کې تعدیل راوړل شوی او نه هم په دې موخه د رابللو لپاره کومه نېټه ټاکل شوې

ده. همدا لامل دی، چې په دې وروستیو کې د مشرانو جرګې یو شمېر غړو له حکومت څخه د لویې جرګې د دایرولو غوښتنې کړې، ترڅو له یوې خوا په اساسي قانون کې بدلون راولي او له بلې خوا د افغان حکومت داخلي او بهرنی سیاست روښانه شي.

## روان وضعیت او د لویې جرګې د رابللو غوښتنې

له تېرو ۱۳ میاشتو راهیسې د هېواد وضعیت د یوه بحران او بُن‌بست په لور روان دی. په هېواد کې ناامنی ورځ تر بلې زیاتېږي، ان تر دې چې په لومړي ځل یو ولایت د څو ورځو لپاره په بشپړ ډول د طالبانو ولکې ته ورغی او د دې ترڅنګ د ځینو څېړنو له مخې، دا مهال د هېواد په کچه ۲۹ ولسوالۍ د طالبانو تر بشپړ کنټرول لاندې دي[1].

اقتصادي حالت هم مخ په ځوړ دی. په دې تړاو په افغانستان کې له پانګونې څخه د ملاتړ د ادارې په اند، د ۲۰۱۴ کال په پرتله د ۲۰۱۵ کال په لومړیو نهو میاشتو کې په هېواد کې د پانګونې کچه ۲٦ سلنه راټیټه شوې ده[2]. همدا راز د بې‌کارۍ او وزګارتیا کچه هم اوج ته رسېدلې او افغانۍ هم د بل هر وخت په پرتله خپل ارزښت بایللی دی.

له افغانستانه د ځوان قشر تېښته هم هغه بله اندېښنه ده، چې د ملي وحدت حکومت ورسره لاس او ګرېوان دی. د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې د راپور له مخې، د ۲۰۱۵ کال له جنوري میاشتې څخه د اګست تر میاشتې پورې تقریباً ۱۲۰۰۰۰ افغانانو په ۴۴ اروپايي صنعتي هېوادونو کې پناه غوښتې ده[3].

د افغان حکومت له خوا د سولې لپاره د پیل شویو هلو ځلو ناکامېدل هغه بل لامل و، چې روان وضعیت یې له بُن‌بست سره مخ کړ. یو شمېر کړۍ او پخوانۍ جهادي څېرې د همدغو لاملونو پر بنسټ او په واک کې د دوی د کمرنګه ونډې له کبله، دا مهال د لویې جرګې د رابللو غوښتنه کوي او د دوی په اند، له دغه حالت څخه د وتلو یوازینۍ لاره د لویې جرګې رابلل او د لنډمهالي حکومت جوړول دي.

---

[1] See online:
http://www.longwarjournal.org/archives/2015/10/taliban-controls-or-contests-scores-of-districts-in-afghanistan.php

[2] See online: http://www.bbc.com/persian/afghanistan/2015/10/151031_k05_afghanistan_aisa_investment_decreased

[3] See online: http://www.unhcr.org/cgi-bin/texis/vtx/refdaily?pass=52fc6fbd5&id=562dc8155

## کوم ډول لویه جرگه؟

ملي وحدت حکومت په اوسني وخت کې نه د اساسي قانون لویه جرگه رابللی شي او نه هم دودیزه لویه جرگه؛ ځکه د اساسي قانون د لویې جرگې دایرول اوسمهال ناشوني دي. په اساسي قانون کې یاده شوې لویه جرگه به، د ملي شورا له غړیو او د ولایتونو او ولسوالیو شوراگانو له رئیسانو جوړېږي، چې تراوسه د ولسوالیو د شوراگانو لپاره ټاکنې هم لانه دي شوې. د دې ترڅنگ د ولسي جرگې ټاکنې هم اړینې دي؛ ځکه د اوسنۍ جرگې رسمي کاري موده او مشروعیت پای ته رسېدلی او د ټاکنو لپاره یې تراوسه نېټه هم نه ده ټاکل شوې.

د ملي وحدت حکومت مشران هم د اساسي قانون او یا هم ژمنه شوې لویې جرگې پر دایرولو موافق دي. په همدې تړاو اجرائیه رییس ډاکتر عبدالله د مدني ټولنو یوې غونډې ته په وینا کې وویل، چې حکومت به د اساسي قانون لویه جرگه دایره کړي، ترڅو په اساسي قانون کې تعدیل او د هېواد په ټاکنیز نظام کې اصلاحات راوړي[4]. خو د دې جرگې د راغوښتلو نېټه یې نه ده په ډاګه کړې.

په بل اړخ کې د پخوانیو جهادي قوماندانانو یوه تازه جوړه شوې شورا بیا د اضطراري لویې جرگې د دایرولو غوښتونکې ده، ترڅو هېواد له روان بُن‌بست څخه وباسي. که څه هم دا ډول لویه جرگه د ولسمشر د فرمان له مخې دایرېدلای شي؛ ځکه د اساسي قانون د ٦٥مې مادې له مخې ولسمشر کولای شي په مهمو ملي، سیاسي، ټولنیزو او یا اقتصادي چارو کې د افغانستان د خلکو نظر پوښتنې ته مراجعه وکړي. خو بیا هم ولسمشر ملزم نه دی، چې د اضطراري او مشورتي لویو جرگو پرېکړې ومني. اوسني وضعیت ته په کتو سره به حکومت داسې لویه جرگه هېڅکله هم راونه غواړي، چې موخه یې د حکومت پرځول او پرځای یې د یوه نوي موقتي حکومت راتگ وي. په همدې اړه اجرائیه ریس په خپلو وروستیو څرگندونو کې ټینگار وکړ، چې «د حکومت د وسله‌والو مخالفینو ترڅنگ په داخل کې ځینې داسې سیاسیون هم شته، چې د حکومت چپه کول غواړي او موږ به د اساسي قانون له لویې جرگې پرته هېڅ کومه بله لویه جرگه دایره نه کړو[5].»

[4] See online:
http://www.tolonews.com/en/afghanistan/22192-abdullah-assures-to-convene-loya-jirga

[5] See online:
http://www.tolonews.com/en/afghanistan/22192-abdullah-assures-to-convene-loya-jirga

د بېړنۍ لويې جرګې په تړاو درې سيناريوګانې شته دي:

**لومړی:** هغه لويه جرګه راغوښتل دي، چې اوس يې د ځينو کړيو له خوا غوښتنه کېږي او پر حکومت بېلابېل فشارونه واردوي؛ خو لکه چې مخکې وويل شول حکومت به ونه غواړي چې دا ډول لويه جرګه دايره کړي.

**دويم:** که د جهادي قوماندانانو د شورا او نورو کړيو فشارونه زيات شي، نو د ملي وحدت حکومت به د مصلحت‌پالنې او پخوانيو جهادي څېرو ته په واک کې د ونډې ورکولو هڅه وکړي، ترڅو له دې لارې هغوی د لويې جرګې له غوښتنې او پر حکومت د فشارونو له واردولو څخه راوګرځوي.

**درېيم:** کمه شونتيا داسې هم شته چې حکومت به پخواني ولسمشر حامد کرزي له خوا د امنيتي تړون په اړه د مشورې لپاره رابلل شوې لويې جرګې په څېر يوه داسې جرګه رابولي چې "مشورتي" وروستاړی ورسره وي، ترڅو يې پرېکړې الزامي نه وي او يوازې مشورتي بڼه ولري.

## آيا لويه جرګه به اوسنۍ ستونزې حل کړي؟

که څه هم اوسمهال د ملي وحدت حکومت دريځ دا دی چې د حکومت د دواړو مشرانو ترمنځ له ژمنه شوې لويې جرګې پرته به، هېڅ ډول بله جرګه راونه بولي؛ خو بيا هم که د اوسنيو ستونزو د هوارې په موخه لويه جرګه راوغوښتل شي، آيا د اوسني وضعيت د بدلون او سم لوري ته د تګ تضمين به وکړای شي؟

اوسمهال ډېرې شنونکي په دې اند دي، چې د جهادي قوماندانانو د شورا له خوا د لويې جرګې د رابللو د غوښتنې تر شا د اوسني حکومت پرځول او پرځای يې د يوه نوي او لنډمهالي حکومت جوړول دي؛ خو که چېرې اوسنی حکومت وپرځول هم شي او پرځای يې له پخوانيو جهادي قوماندانانو او يو شمېرو نورو څېرو څخه جوړ شوی موقتي حکومت هم رامنځته شي، هېواد به له اوسني بحران څخه ونه شي ايستلی؛ ځکه له روان بُن‌بست څخه د وتلو يوازېنۍ لاره د سولې معقوله او عملي پروسه او د دولت له وسله‌والو مخالفينو سره روغه جوړه ده. له دې پرته هر ډول بله هڅه، لکه د بېړنۍ لويې جرګې دايرول، د موقت حکومت جوړول او يا هم هغو کسانو ته چې له واک څخه دباندې پاتې دي، په واک کې سهم ورکول به افغانستان له اوسني بد وضعيت څخه ونه شي ايستلی، بلکې دا به په هېواد کې سياسي زغم کم او د ولسواکۍ تجربه پيکه کړي.

# انتخابات ترکیه و پیروزی حزب عدالت و توسعه




پیروزی حزب عدالت و توسعه در انتخابات پارلمانی اول نوامبر ترکیه از نظر بسیاری در سطح جهان غیرمنتظره بود. در انتخابات قبلی ترکیه، که پنج ماه قبل برگزار گردید حزب عدالت و توسعه نتوانست اکثریت آرای لازم برای تشکیل حکومت را به دست آورد و برای تشکیل حکومت مجبور بود تا با احزاب دیگر حکومت ائتلافی تشکیل دهد. اما تلاش‌ها برای حکومت ائتلافی نیز به جایی نرسید و در نتیجه، مطابق به قانون اساسی ترکیه، انتخابات پارلمانی زودهنگام برگزار گردید.

قبل از این انتخابات، باورها به خصوص در کشورهای غربی این بود که نتایج انتخابات جدید نیز فرقی از انتخابات قبلی نخواهد داشت. هیچ حزبی اکثریت را در پارلمان به دست نخواهد آورد و در نتیجه، ترکیه همچنان درگیر بن‌بست سیاسی بر سر تشکیل حکومت ائتلافی باقی خواهد ماند.

## احزاب شرکت‌کننده در انتخابات

بیش از 54 میلیون شهروند ترکیه واجد شرایط شرکت در انتخاب 550 نمایندۀ پارلمان ترکیه هستند و بر بنیاد قانون اساسی ترکیه هر حزب در صورتی می‌تواند به پارلمان وارد شود که حداقل ده در صد از مجموع آرا را به دست آورده باشد در غیر آن به پارلمان راه نمی‌یابد و کرسی‌هایش به حزب برنده اختصاص داده می‌شود. در

انتخابات 5 ماه قبل که در 7 جولای 2015 برگزار شد 16 حزب سیاسی شرکت داشتند که فقط 4 حزب توانستند از مرز ده در صد بگذرند و در پارلمان کرسی به دست آورند.

قدرتمندترین حزب در صحنۀ سیاسی فعلی ترکیه حزب عدالت و توسعه است که از سال 2002 میلادی زمام امور در ترکیه را در اختیار دارد. این حزب با وعدۀ بهبود وضع اقتصادی توانست قدرت را در ترکیه به دست گیرد و حزبی است به وضوح اسلام‌گرا. این حزب در نظام سیاسی سیکولار ترکیه که دین را از سیاست جدا می‌داند، با قبول خطرات بسیار توانست، جایگاه خود را تثبیت نماید. این حزب با صداقت تمام به وعده‌های خود به مردم وفا کرد و ترکیه را که درگیر بحران اقتصادی و چالش‌های امنیتی بود، به کشوری با ثبات و مرفه مبدل ساخت.

حزب جمهوری‌خواه خلق یکی از قدیمی‌ترین احزاب سیاسی در ترکیه بوده و در مقاطعی از تاریخ معاصر ترکیه، زمام امور این کشور را به تنهایی به عهده داشته است.

حزب حرکت ملی با گرایشات ملی و تاحدی اسلام‌گرایانه است که در بعضی موارد از اقدامات حزب عدالت و توسعه حمایت کرده است.

حزب مهم دیگر در ترکیه حزب ملی‌گرای دیموکراتیک خلق‌ها است که در مناطق کرد نشین و نیز در میان ملی‌گرایان، در شهرهای بزرگ این کشور از نفوذ و حمایت برخوردار است.

## انتخابات دور قبلی

در انتخابات 7 جولای، حزب عدالت و توسعه (AKP) 40.87 در صد از مجموع آرا و 258 کرسی را به دست آورده بود که تشکیل حکومت به تنهایی ممکن نبود.

حزب دوم در آن انتخابات حزب جمهوری خلق (CHP) بود که توانست 132 کرسی و 24.95 در صد آرا را به دست آورد. حزب حرکت ملی (MHP) با به دست آوردن 80 کرسی و 16.29 در صد آرا سومین حزب و در نهایت حزب کردها، بنام حزب دموکراتیک خلق‌ها (HDP) با کسب 80 کرسی و 13.12 در صد از مجموع آرا چهارمین حزب انتخابات شد. این نخستین باری بود که یک حزب کردی موفق شد تا ده در صد از مجموع آرا را به دست آورده و در پارلمان ترکیه عضویت حاصل نماید.

**جدول الف: انتخابات پارلمانی دور اول ترکیه به روایت آمار**

| نام حزب | تعداد کرسی‌ها | فیصدی آرا |
|---|---|---|
| حزب عدالت و توسعه یا AKP | 258 کرسی | 40.87 |
| حزب جمهوری خلق یا CHP | 132 کرسی | 24.95 |
| حزب حرکت ملی یا MHP | 80 کرسی | 16.29 |
| حزب دیموکراتیک خلق یا HDP | 80 کرسی | 13.12 |

## تغییر در انتخابات دور دوم

پس از آنکه حزب عدالت و توسعه نتوانست با کسب 258 کرسی حکومت را تشکیل نماید و رایزنی‌ها برای تشکیل دولت ائتلافی بدون نتیجه ماند، رجب طیب اردوغان، رئیس جمهور و بنیانگذار حزب عدالت و توسعه، دستور تشکیل دولت موقت و برگزاری انتخابات زودهنگام را صادر کرد. انتخابات دور دوم این معادله را کاملا دگرگون کرد و حزب عدالت و توسعه توانست با کسب اکثریت کرسی‌های پارلمان برنده انتخابات پارلمانی زودهنگام ترکیه شود.

در این انتخابات حزب عدالت و توسعه توانست 49.36 درصد از آرا را به خود اختصاص داده و 316 کرسی را به دست آورد که برای احمد داود اوغلو رهبر حزب عدالت و توسعه این فرصت را فراهم می‌آورد تا به تنهایی حکومت تشکیل دهد. حزب جمهوری خلق به رهبری کمال قلیچدار اوغلو با کسب 134 کرسی و 25.43 در صد از مجموع آرا در مقام دوم قرار گرفت. حزب دیموکراتیک خلق‌ها به رهبری صلاح الدین دیمیرتاش که مورد حمایت کردهاست و تاحدی می‌توان آنرا بازوی سیاسی پ.ک.ک هم خواند در این انتخابات شکست سنگینی را متحمل شد و از 80 کرسی 21 کرسی خود را که در انتخابات گذشته به دست آورده بود، از دست داد و در مجموع 10.65 در صد آرای لازم برای ورود به پارلمان را کسب کرد.

واقعۀ عجیب دیگر در این انتخابات شکست سنگین حزب حرکت ملی بود. بعد از انتخابات قبلی در 7 جولای، حزب عدالت و توسعه می‌خواست با این حزب حکومت ائتلافی بسازد، اما حرکت ملی شرایط سنگینی را برای ائتلاف پیشنهاد کرد که برای عدالت و توسعه قابل قبول نبود ولی در انتخابات اخیر، عدالت و توسعه توانست از 80 کرسی این حزب که در دور قبلی انتخابات به دست آورده بود، 36 کرسی را به دست آورد.

در کل، نتایج انتخابات اول نوامبر که 16 حزب و 21 نامزد مستقل در آن حضور داشتند، پیروزی بزرگی برای حزب عدالت و توسعه و رجب طیب اردوغان رییس جمهور ترکیه به شمار می‌رود. حزب حرکت ملی و حزب دموکراتیک خلق‌ها بازندگان این انتخابات محسوب می‌شوند.

**جدول ب: انتخابات پارلمانی دور دوم ترکیه به روایت آمار**

| نام حزب | تعداد کرسی‌ها | فیصدی آرا |
|---|---|---|
| حزب عدالت و توسعه یا AKP | 316 کرسی | 49.36 |
| حزب جمهوری خلق یا CHP | 134 کرسی | 25.43 |
| حزب حرکت ملی یا MHP | 41 کرسی | 11.96 |
| حزب دیموکراتیک خلق یا HDP | 59 کرسی | 10.65 |

میزان مشارکت: 84 درصد – تعداد آرای صحیح: 47,195,628

## عوامل پیروزی حزب عدالت و توسعه

عوامل پیروزی حزب عدالت و توسعه در انتخابات اخیر را می‌توان چنین برشمرد:

### 1. امنیت و اقتصاد

نگرانی مردم ترکیه از چالش‌های امنیتی و اقتصادی، در پیروزی این حزب تاثیر عمده داشته است. در فاصلهٔ دو انتخابات، ترکیه شاهد حوادث غم‌انگیزی بود که از جملهٔ آن‌ها افزایش عملیات نظامی در داخل کشور، پایان دورهٔ آتش‌بس میان ارتش ترکیه و حزب پ.ک.ک، کاهش لیره در برابر ارزهای خارجی و بحران پناهندگان درگذر از ترکیه به اروپا بود.

ترکیه از نظر امنیتی با چالش‌های زیادی مواجه بود. جنگ و ناامنی در سوریه روی ترکیه تاثیرگذار است و در این اواخر ترکیه نیز شاهد وقایع ناامنی بوده که مردم این کشور را نسبت به آینده به شدت نگران ساخته است. به همین دلیل، مخالفین اردوغان نیز می‌گویند که دولت در طول 5 ماه گذشته با خراب کردن اوضاع اقتصادی و امنیتی به صورت قصدی، مردم را از آینده نگران ساخت و در نتیجه مردم به دلیل ترس به حزب عدالت وتوسعه رای دادند. اما حکومت حزب عدالت وتوسعه در گذشته، در مقابله با ناامنی‌ها عملا کارایی خود را به اثبات رسانیده است. رجب طیب اردوغان، رئیس جمهور ترکیه پیش از انتخابات اخیر با اشاره به درگیری ارتش ترکیه و نیروهای کرد گفته بود که تنها کسب اکثریت کرسی‌ها از سوی این حزب می‌تواند انتظار رای دهندگان را در مورد بازگشت ثبات به کشور برآورده کند.

درآمدهای ناشی از صنعت توریزم که بخش بزرگی از درآمد کشور ترکیه را تشکیل می‌دهد، نیز به امنیت وابسته است. در ترکیه دو بخش صنعت و توریزم به ترتیب 32 و 51 در صد کل اقتصاد کشور را تشکیل می‌دهند و به شدت نسبت به وضعیت بلاتکلیفی حساس هستند. از سال 2006 بدین‌سو همه‌ساله میزان ارقام توریزم افزایش یافته است. در سال 2006 حدود 18 میلیون گردشگرد از ترکیه دیدن کردند که در سال 2014 میلادی این رقم به 41 میلیون گردشگر رسیده بود، اما در سال 2015 به دلیل ناامنی‌ها ورود گردشگران به ترکیه کاهش یافته است.

### 2. برنامهٔ روشن

بررسی‌ها نشان می‌دهد که حزب عدالت و توسعه با ارائهٔ یک برنامهٔ روشن و عملی در بخش‌های اقتصادی و امنیتی توانست در 80 ولایت از 81 ولایت ترکیه در مقایسه با انتخابات 5 ماه قبل رای بیشتر مردم را به خود اختصاص دهد و جالب اینجاست که بیشترین افزایش در آرای این حزب برخلاف انتظار در ولایات کردنشین جنوب و

جنوب‌شرق بوده است. شاید همین مسئله نتایج انتخابات را غیر منتظره ساخت زیرا تحلیلگران گمان نداشتند که کردها به حزب عدالت و توسعه رای دهند در حالیکه در عمل این اتفاق افتاد. در واقع هیچ‌کدام از احزاب مخالف در ماه‌های گذشته نتوانستند راه‌حلی برای برون‌رفت از وضع فعلی پیشنهاد کنند.

3. **کارزار انتخاباتی**

حزب عدالت و توسعه این بار تلاش‌های زیادی نیز در کارزارهای انتخاباتی به خرچ دادند. حتی زمانی که نتایج انتخابات اعلام می‌شد رهبران حزب عدالت و توسعه در دفتر مرکزی این حزب حضور نداشتند و در حوزه‌های انتخاباتی خویش به سر می‌بردند.

4. **حملات پ.ک.ک**

حملات مسلحانهٔ حزب کارگران کردستان (پ.ک.ک) و عملیات دولت بر ضد این گروه عامل دیگری بود که مردم به حزب دموکراتیک خلق-کردها رای ندهند، چون بسیاری در ترکیه این حزب را بازوی سیاسی پ.ک.ک می‌دانند و بدین ترتیب کرسی‌های حزب دموکراتیک خلق‌ها در انتخابات اخیر از 80 کرسی به 59 کرسی کاهش پیدا کرده است. همچنان، نزدیک شدن گروه‌های کرد مخالف دولت ترکیه به ایران و امریکا موجب شد تا کردهای اسلام‌گرا که پنج ماه قبل به حزب دیموکراتیک خلق‌ها رای داده بودند، این بار به حزب عدالت و توسعه رای بدهند.

5. **هراس از حکومت ایتلافی**

مردم ترکیه از حکومت‌های ائتلافی تجربهٔ تلخ دارند و عملا شاهد بوده‌اند که چنین حکومت‌ها درگیر کشمکش میان خود بوده و فرصت کمتری به حل مشکلات مردم داشته اند، تمایل خود را به ثبات سیاسی به نمایش گذاشتند و ترجیح دادند شاهد شرایطی باشند که حزب عدالت و توسعه بتواند به تنهایی سکاندار امور کشور شان باشد. به همین دلیل جمعی از ملی‌گرایان هم که در دور قبلی انتخابات به حرکت ملی رای داده بودند، این بار رای شانرا به صندوق عدالت و توسعه ریختند.

## تاثیر پیروزی حزب عدالت و توسعه بر وضعیت داخلی ترکیه

هرچند تغییر زیادی در سیاست‌های حکومت جدید این کشور رونما نخواهد شد، ولی باز هم تاثیر پیروزی این حزب بر وضعیت داخلی ترکیه را می‌توان در دو نکته بیان کرد:

1. **تغییر در قانون اساسی**

اگر یک حزب بخواهد در قانون اساسی ترکیه تغییر وارد سازد باید 330 کرسی در پارلمان داشته باشد. هرچند حزب عدالت و توسعه کرسی‌های لازم برای برگزاری همه‌پرسی تغییر قانون اساسی و افزایش اختیارات رئیس‌جمهور که

آقای اردوغان خواهان آن بوده را ندارد، اما وی در نخستین سخنرانی خود به پارلمان ترکیه بر نیاز تغییر در قانون اساسی تاکید کرد. اردوغان می‌خواهد نظام پارلمانی را به صدارتی تغییر دهد. بنابراین اگر حزب‌اش حمایت احزاب دیگر و یا اعضای مستقل پارلمان را به دست آورد، در قانون اساسی این کشور تغییر وارد خواهد آورد و آنرا به همه‌پرسی پیش خواهد کرد.

2. **پالیسی جنگ برضد پ.ک.ک**

حکومت جدید ترکیه سیاست جنگ با پ.ک.ک را در پیش خواهد گرفت. چنانچه اردوغان در سخنرانی خود به این مسله اشاره کرد و گفت که با پ.ک.ک تا زمانی به جنگ ادامه خواهد داد که این گروه اسلحه را به زمین بگذارد.

این انتخابات نکته‌ای را نیز روشن ساخت که می‌تواند روی آیندۀ سیاسی ترکیه تاثیرگذار باشد؛ در گذشته بیشتر کردهای ترکیه با هر طرز فکری از پ.ک.ک که درگیر جنگ با دولت ترکیه است، حمایت می‌کردند اما اکنون به نظر می‌رسد که اسلام‌گراهای کرد به تدریج در حال منسجم شدن اند تا خود را از پ.ک.ک دور سازند و به جای توسل به خشونت که هیچ بهره‌ای هم برای آنان در قبال نداشته است، با دولت ترکیه به تعاملی مسالمت‌آمیز دست یابند تا حقوق کردها تضمین گردد. این فرصت خوبی نیز برای اردوغان خواهد بود تا از این طریق به مشکل جنگ کردها که ده‌ها سال است ترکیه را با چالش‌های امنیتی مواجه ساخته است، خاتمه دهد.

## تاثیر پیروزی حزب عدالت و توسعه بر منطقه

بحران پناهجویان، ادامه جنگ داخلی در سوریه و لزوم برخورد با گروه داعش از جمله مسائلی هستند که در کنار مسائل داخلی، اهمیت نتایج انتخابات ترکیه را برای قدرت‌های خارجی و همسایگان دو چندان کرده بود. با در نظرداشت جایگاه ترکیه در جهان امروزی و سیاست خارجی حزب عدالت و توسعه، پیروزی این حزب در انتخابات ترکیه تاثیراتی بر کشورهای منطقه و جهان خواهد داشت.

**جهان اسلام:** اگر حزب عدالت و توسعه بتواند قانون اساسی را به نفع قدرت بیشتر برای رئیس جمهور عوض کند، شاهد یک دولت قوی اسلام‌گرا در ترکیه و تاثیر آن بر کل جهان به خصوص جهان اسلام خواهیم بود. از سوی دیگر، حکومت ترکیه با گروه داعش که در حقیقت نتیجه‌ای تحولات سیاسی در جهان عرب است، با جدیت بیشتر به میدان مبارزه خواهد رفت، چون در این اواخر انفجارهای خونینی نیز در ترکیه از سوی این گروه انجام شده است.

**سوریه و عراق:** حکومت ترکیه در مورد سوریه بنابر قرابت مرزی که به سوریه دارد به خصوص از ناحیهٔ مهاجرین سوری و گسترش ناامنی از سوریه به این کشور، نگران است. بنابراین حکومت جدید بر کشورهای درگیر در بحران سوریه و عراق فشار وارد خواهد کرد، تا جنگ در این منطقه به پایان برسد. به همین دلیل، رئیس جمهور ترکیه پس از پیروزی حزب‌اش در انتخابات، با ولادمیر پوتین رئیس جمهور روسیه در مورد بحران سوریه گفتگو کرده است.

**افغانستان:** پیروزی حزب عدالت و توسعه تاثیر مثبتی بر وضعیت افغانستان نیز خواهد داشت، چون ترکیه در بیش از یک دههٔ گذشته طرفدار صلح و ثبات در این کشور بود. حکومت ترکیه تلاش کرد تا روابط حکومت افغانستان با کشورهای همسایه‌اش به خصوص پاکستان که در پروسهٔ صلح افغانستان نقش ارزنده‌ای دارد، حسنه باشد و به همین دلیل در سال 2007 پروسهٔ صلح استانبول برای افغانستان را میان افغانستان، پاکستان و ترکیه در انقره پایتخت ترکیه آغاز کرد که هشت نشست سه‌جانبه این پروسه تا سال 2013 تدویر یافت. در این نشست‌ها جهت حل اختلاف‌نظرها میان افغانستان و پاکستان، با وساطت ترکیه و برعلاوهٔ همکاری‌های سه‌جانبه بین کشورها، روی جوانب مختلف پروسه صلح افغانستان بحث و تبادل نظر صورت می‌گرفت. مخالفین مسلح حکومت افغانستان نیز در جمع کشورهای عضو ناتو که در افغانستان حضور دارند، برخورد نرم با ترکیه دارند و این کشور می‌تواند در قضیهٔ صلح افغانستان نقش مثبتی را ادا نماید.

پایان

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارهٔ تماس دفتر: 784089590 (+93)

**ارتباط با مسؤولین:**

دکتور عبدالباقي امین، رئیس مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: (+93) 789316120 abdulbaqi123@hotmail.com

داکتر وحیدالله مصلح، معاون مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: (+93) 747575741 drwahidm@gmail.com

حکمت الله ځلاند، مسؤول تحقیقات و نشرات: (+93) 775454048 hekmat.zaland@gmail.com

**یادآوری:** لطفا نظرات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.